دریيمه کچه

education above all
التعليم فوق الجميع

# له واورين پړانګ سره زمونږ مخامخ کيدل



**ليکوال:** شيراب لوبزانګ
**انځورګر:** تنوشري رويي پال

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Our Encounter With A Snow Leopard, Pashto, Published by Nature Conservation Foundation , under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver.





زه په برکنډا کې، چې د پامیر په داخلي برخه کې د ۱۷ کورونو یو کوچنی کلی دی، لویه شوې یم. دا کلی ګڼ غرونه او شین اسمان لري. کله چې زه کوچنۍ وم، زمونږ د کلي ټولې کورنۍ په مالدارۍ بوختې وې. هرې کورنۍ وزې، مېږې، غژګاو (مېښې) او غواګانې درلودلې. مونږ ټولو به، آن کوچنیانو هم، څاروي پوول. مونږ به دا ډاډ ترلاسه کولو چې زمونږ د کلي شاوخوا څرځایونو کې د څاروو د څرېدو پر مهال هغوی سره یوځای واوسو. زما اوس هم په یاد دي کله چې زه په لومړي ځل د کلي لپاره د څاروو پوولو لپاره ولاړم، دا زما د ژوند تر ټولو رېږدوونکې او ډارووونکې ورځ وه!

دا چې زما مور او پلار د کور په نورو کارونو کې بوخت وو، هغوی ما ته او زما ۸ کلن ورور، نور، ته وویل چې له رمې سره ولاړ شو. زه د خپل ورور نه ۶ کاله مشره وم.
مونږ یوه ورځ، د چای او ستوانو (له وړو او سره شویو وربشو جوړ خواړه دي) په خوړلو سره، او په دوامداره توګه په خبرو اترو کې د څآروو په پاملرنه کولو کې تېره کړه. مونږ ته نژدې ۵۰ څاروي راسپارل شوي وو. ورځ ارامه تېره شوه، او مونږ هم ځانونه ډاډه احساسول. ما فکر کاوه چې دا خو اسانه کار دی.



په داسې حال کې چې مونږ د ځاروو رمې سره له غره څخه د ښکته کېدو په حال کې وو، نور یو کړیکه وکړه او یو ستر، له ویښتانو ډک، خړ رنګه ځاروي ته یې اشاره وکړه چې یوه اوزه یې له مرۍ/ورمېږ څخه نیولې وه. زمونږ دواړو له بدنه ساه ووته. مونږ نه پوهېدلو چې څنګه باید غبرګون وښایو. مونږ چې خپلې مخې ته کوم حیوان ولیدو، هغه د غټ جسامت یوه پیشو وه. د هغه پنجې ډېرې غټې وې، او مونږ لیدلای شول چې عضلو یې ټوپونه وهل په داسې حال کې یوه لاس پښې وهونکې اوزه یې په خپلو ژامو کې نیولې وه. دا نو واورین پړانګ و چې د غرونو بلا، د پامیر تر ټولو خطرناکه حیوان بلل کېدو.

زه وریپدم. زه دومره شدیده لړزېدم چې په سختۍ مې ایله ځان نېغ ولاړ وساتلی شو. څو له تشنج ډکې دقیقې تېرې شوې او بس ما پرته له دې چې خپلې سترګې په پړانګ ښخې وساتم، بل څه نه شو کولای. په پای کې، ما یوه ژوره ساه واخیستله او خپل ځان ته مې وویل چې زه له خپل ورور نه مشره یم او له همدې کبله زه باید وضعیت کنټرول کړم. ما د نور لاس ونیو او هغه ته مې غلی وویل چې زړور اوسه او مه ډارېږه.







واورين پړانګ، چې د شور له امله ورخطا شوی و، اوزه وغورځوله او په ګواښونکي بڼه راته وغورېد. مونږ دواړو په ګډه دومره شور جوړ کړو چې واورين پړانګ په ارامۍ سره د اوزې خوړل ناشونی شوا! نو، پړانګ لېږې منډه کړه او غره ته وخوت او له هغه ځایه یې مونږ باندې سترګې خښې کړې.

مونږ دواړه لږ لږ واورين پړانګ ته ورنږدې شولو. زمونږ والدينو مونږ ته لارښوونه کړې وه چې د وحشي حیوان سره د مخ کېدو په صورت کې باید مونږ څه وکړو. لومړی کار چې مونږ وکړو هغه دا چې په زوره زوره مو چیغې وهلې. حیوانات شور سره ورخطا کېږي. د خپلو ځانونو د ژغورلو لپاره، نور او ما له ځمکې څخه ډبرې راواخیستې او دا مو د پړانګ په لور وویشتې تر څو ویې ډاروو. ما یو لرګی راواخیستو او په زوره زوره مې ځمکه وهل پیل کړه او غوغا مې جوړه کړه.

کله چې مونږ ته فرصت په لاس راغلو، مونږ د اوزې پر لور منډه کړه تر څو وګورو چې ایا لا هم ژوندۍ ده. خو اوزه ژوندۍ نه وه. مونږ وډار شولو. مونږ نه غوښتل چې په کلي کې خلکو ته ووایو چې زمونږ په دره کې یو واورين پړانګ راغلی دی. دا د چوپانانو/ پوونکو په توګه زمونږ لومړۍ ورځ وه او نه مو غوښتل چې د لاسه تللې اوزې لپاره پړ وبلل شوا!



ما وویل، ”هیله منده یم چې دا به شیدې نه کوي.“ نور سر وخوځولو. مونږ نه غوښتل چې څوک پوه شي چې اوزه ورکه ده. که دا (ښځینه) اوزه وی، څښتن یې ښايي نه شتون احساس کړي. که نه وي، بیا مونږ د پاره دومره د ډار خبره نه ده ځکه چې ډېر امکان شتون لري چې څښتن به یې د اوزې په نه شتون باندې پوه نه شي. ما د اوزې د لوشلو هڅه وکړه او زړه مې کرار شو چې اوزې شیدې نه کولې. که څه هم وضعیت خراب و خو شکر مې وکړو چې دومره هم خراب نه دی.



**واقعیت:** کله چې یوه (ښځینه) اوزه بچي ولري، د هغې په تیونو کې شیدې وي. که دا یوه مور اوزه وي چې پر ځان متکي یو وزګوړی لري، څښتن به یې پوه شي چې اوزه ورکه ده ځکه چې بچی به یې شیدو پسې بین بین (یعنې ژړا) کوي!



نور او ما غوښتل چې د اوزې تنه یوځای
له ځان سره کلي ته یوسو. مونږ دواړه
واړه وو او د داسې یو حیوان، چې وزن یې
د ۲۰ او ۳۰ کیلوګرامه ترمنځ و، د وړلو
توان مو نه درلوده. موږ د اوزې د تنې د
پټولو په اړه هم فکر وکړ خو مونږ ولیدل
چې واورین پړانګ زمونږ حرکتونه څاري
او، له دې کبله، پټنځای به پیدا کړي.

دوه ساعته، مونږ د ډار او ویرې په حال
کې د اوزې مړي سره ولاړ وو. ناڅاپه د
نور پام شاوخوا ته واوښتو. هغه چیغه
کړه، ""ملالۍ! زمونږ رمه! " د اوزې په
تړاو زمونږ په اندېښنه کې، مونږ پوه نه
شو چې مونږ د رمې نور ټول څاروي له
پامه غورځولي دي. د څاروو هیڅ درک
نه لګېدو! له دې کبله مې په خپله ګېډه
کې ناارامي (ګډوډي) احساس کړه.

ما مې خپل ورور ته مخ کړو او ورته مې وویل چې خپلو والدینو او کلیوالو ته دې د پېښې په هکله هیڅ نه وایي. مونږ دواړه ډارېدو چې مونږ به له دې امله چې یو واورین پړانګ زمونږ په مخ کې زمونږ د کلي یوه اوزه وژلې وه، سزا راکړل شي. نو ځکه مونږ د دې خبرې د پټولو پرېکړه وکړه.

مونږ د اوزې جسد هملته کېښود چېرته چې وژل شوې وه او په چټکۍ سره د پاټې رمې د لټولو لپاره له غونډېو څخه راکښته شولو. مونږ رمه نژدې ۳ کېلومتره لاندې د غره په لمن کې پېدا کړه. دوی د حرکت توان نه درلوده ځکه چې دوی هم له واورین پړانګ څخه ډارېدلې. مونږ په دوی باندې د شګو په ګوزار وو کولو او په خپلو لښتو د شور جوړولو په مرسته دوی حرکت کولو ته اړ ایستلې.





کور ته چې پر لار روان وو، مونږ یو څو
کلیوال ولیدل چې زمونږ په لټه کې وو.
هغوی مونږ سره د رمې په پوولو کې
مرسته کولو لپاره راغلي وو.

هغوی پوښتنه وکړه چې آیا مونږ خو به
په دې ورځ له کوم لېوه یا واورین پړانګ
سره مخ شوي نه وو. ما او ورور مې سر
وښورولو او یو بل ته مو وکتل.

مونږ ماښام ناوخته کور ته ورسېدو او
مورجانې مې مونږ ته چای او ډوډۍ
راکړل. که څه هم مونږ د احساساتو له
امله په چاودېدو وو، خو مونږ پرېکړه
وکړه چې دا تظاهر کول به خوندي وي
چې کارونه په عادي توګه ترسره شوي
وو.



کله چې مونږ چای څښلو، مورجانۍ وویل چې هغه ټوله ورځ زمونږ په اړه اندېښمنه وه. مونږ هغې ته و نه ویل چې څه پېښ شوي وو. ته به څنګه خپلې مورجانۍ ته ووایې چې نن ته یو واورین پړانګ سره مخامخ شوی وې؟ مونږ نه غوښتل چې مورجانه مو خپه شي. مونږ مسکي شو او په زړورتیا مو ورته وویل چې هیڅ ستونزه نه وه.

په یوځای کې خو پوهېدو چې مونږ څه کول، هغه سهي نه وو. په دودیز ډول، هر شپون باید نورو ته د خطر خبر ورکړي که چېرې په دره کې کوم داړونکی حیوان، چې رمې ته ګواښ پېښوي، ووېني. په دې سره، بله ورځ رمه پوونکي/شپانه ښه چمتو وي او د څاروو او د ځانونو د ژغورلو په موخه د دوه شپنو پر ځای ۴ شپانه یې ملتیا کولای شي. خو د دې پر ځای، مونږ خپل ځان سره د خبر د پټولو پرېکړه وکړه. مونږ د ګناه په احساس ککړ پاتې شولو!

بله ورځ، ما ولیدل، دا چې مونږ کلیوالو ته د واورین پړانګ په اړه د خطر خبر نه دی ورکړی، نو یوائې یو شپون څرځای ته له رمې سره ولاړ. مونږ شدید اندېښمن وو چې څه به کېږي. آیا زمونږ ملګری به په خطر کې وي؟ آیا نورو ته د خبر په نه ورکولو سره مونږ د هغه یا د اوزو ژوند له خطر سره مخ کړی و؟

مونږ د کلي په لار په درېدو سره ټوله ورځ انتظار وکړ. زمونږ سترګې د غرونو لوري ته وې. ماښام زمونږ ملګری راستون شو. د شکر ځای و چې هیڅ کوم څاروی زیانمن شوی نه و.





نږدې دوه میاشتې وروسته، ما جرأت وکړ چې خپلې مور ته اعتراف وکړم چې څه پېښ شوي وو او څنګه مونږ واورین پړانګ سره مخامخ شوي وو. ”مونږ خپله پوره هڅه وکړه چې اوزه وژغورو،“ ما په ژړغوني غږ وویل.



هغه په صدمه کې شوه او له سترګو یې اوښکې روانې شوې. هغې باور نه شو کولای چې مونږ به دومره تکړه وو چې یوازې په یوه لښته او یو څو ډبرو به مو واورین پړانګ ځغلولی وي. هغې مونږ په غېږ کې ونیولو او راته ویې ویل چې بل ځل ډېر احتیاط کوئ.

هغې مونږ ته تشریح کړه چې ولې د دا ډول پېښو په اړه کلیوالو ته خبر ورکول ډېر ارزښت لري او مونږ ته یې په دې خبره د عمل نه کولو له امله ځورونه راکړه.

ډېره موده پس کله چې ما د ساتنې په برخه کې کار پیل کړ، زه پوهه شوم چې کله یو واورین پړانګ یو ښاروی ووژني نو غوره کار دا دی چې د ښاروي جسد دې ځای پر ځای پې له ښورولو پرېښودل شي ترڅو واورین پړانګ یې خپل خوراک وګرځوي. په دې کار سره دا خبره باوري کېږي چې واورین پړانګ بله ورځ نور ښاروي نه وژني. زما ورور او ما همداسې کړي وو، خو فقط ځکه چې مونږ نه شوي کولای د اوزې جسد له ځان سره بېرته کور ته یوسو.

نن سبا، د ژغورنې د هلو ځلو په برکت، خلک جسد ته لاس نه وروړي او پړانګ ته یې د خوړلو لپاره پرېږدي. دا کار هم د پړانګ، هم د کلیوالو او هم مونږ لپاره ګټور ثابت شوی و!



# لارښودونکې پوښتنې

1. ستاسو په ګومان ملالۍ او نور د واورین پړانګ د ډارولو لپاره څه وکړل؟ که تاسو د هغوی په ځای وای، څه به مو کړي وو؟
2. ملالۍ ولې و نه غوښتل چې خپلې مور ته د پېښې شوې کیسې په اړه څه ووایي؟ آیا ستاسو په ګومان د هغې پرېکړه سمه وه؟ هغې ولې وروسته بیا خپله پرېکړه بدله کړه؟
3. تاسو د واورینو پړانګانو په اړه څه معلومات لرئ؟ هغوی څه ډول عادت لري؟ هغوی څه خوري؟ تاسو ولې داسې فکر کوئ چې هغوی ته د غرونو بلاګان ویل کېږي؟
4. واورین پړانګان له خطر سره مخ انواع ګڼل کېږي. دا مهال یوازې ۶۰۰۰ واورین پړانګان په خپلو طبیعي استوګنځایونو کې پاتې دي. ستاسو په ګومان دا کار ولې کېږي؟
5. ستاسو د استوګنې په سیمې پورې اړوند کوم ځانګړي انواع شتون لري؟ د نوعې استوګنځی، د خوړو عادتونه او د هغوی د لیدل کېدو ښېلګې په څه ډول دي؟ آیا دا له خطر سره مخ انواع دي؟